NRC-RIM
National Resource Center for Refugees, Immigrants, and Migrants



| | PSA 1 |
|---|---|
| **English** | COVID-19 vaccines are FREE for everyone. But make sure and ask if there are any other costs with getting vaccinated. No one can be denied a free vaccine if they are unable to pay an administration fee. Once vaccines are widely available, anyone can get vaccinated regardless of immigration status. Protect yourself.  Protect your community.  Get vaccinated. |
| **Translation** | د کوویډ-19 ناروغۍ واکسین د ټولو خلکو لپاره وړیا دي. مګر ځان مطمئن کړئ او پوښتنه وکړئ چې آیا واکسین کول نور کوم مصارف لري او کنه. هیڅ څوک له دې امله چې د مدیریت کولو فیس نشي ورکولی، له واکسین ترلاسه کولو څخه نشي منع کېدی. هرکله چې واکسین په پراخه کچه تولید شول، نو پرته د مهاجرت وضعیت په پام کې نیولو سره هر شخص کولی شي واکسین ترلاسه کړي.  خپل ځان خوندي کړئ.  خپله ټولنه خوندي کړئ.  واکسین وکړئ |

| | PSA 2 |
|---|---|
| **English** | The COVID-19 vaccine protects you from getting COVID-19. If you still get COVID after you get vaccinated, the vaccine protects you from getting seriously ill. Even if you had COVID-19, you should still get vaccinated. Protect yourself. Protect your community. Get vaccinated. |
| **Translation** | د کوویډ-19 واکسین تاسې په کوویډ-19 له اخته کېدو څخه ژغوري. که چېرې له واکسین کولو څخه وروسته بیا هم په کوویډ اخته کېږئ، نو نوموړی واکسین تاسې له شدید نارغه کېدو څخه ژغوري. که چېرې مخکې په کوویډ-19 اخته شوي یاست، بیا هم باید واکسین وکړئ. خپل ځان خوندي کړئ. خپله ټولنه خوندي کړئ. واکسین وکړئ. |

| | PSA 3 |
|---|---|
| **English** | COVID-19 vaccines are safe and effective. The vaccine CANNOT give you COVID-19. No other vaccine has been tested as much for its safety in U.S. history. The vaccine has been proven safe for thousands of people, including those of different races, ethnicities and ages.  No other vaccine has been tested as much for its safety in U.S. history and millions of people have been safely vaccinated. Protect yourself.  Protect your community.  Get vaccinated. |
| **Translation** | د کوویډ-19 واکسین بې ضرره او اغېزناک دي. نوموړی واکسین تاسې په کوویډ-19 نه اخته کوي. د متحده آیالاتو په تاریخ کې د بل کوم واکسین خوندیتوب په دومره زیاته اندازه ندی ازمویل شوی. د مختلفو نژادونو، قبیلو او مختلفو عمرونو لرونکو کسانو په شمول، نوموړی واکسین د زرګونو خلکو لپاره بې ضرره ثابت شوی دی.  د متحده آیالاتو په تاریخ کې د بل کوم واکسین خوندیتوب په دومره زیاته اندازه ندی ازمویل شوی او په میلیونونو خلک په خوندي ډول د نوموړي واکسین په وسیله واکسین شول. خپل ځان خوندي کړئ.  خپله ټولنه خوندي کړئ.  واکسین وکړئ |

| | PSA 4 |
|---|---|
| **English** | COVID-19 vaccines are safe and effective. Side effects are normal and mean the vaccine is teaching your body how to fight the virus. You CANNOT get COVID-19 from the vaccine. Protect yourself. Protect your community. Get vaccinated. |
| **Translation** | د کوویډ-19 واکسین بې ضرره او اغېزناک دي. جانبي عوارض يې عادي دي او ستاسې بدن د کوویډ-19 سره د مبارزې لپاره اماده کوي. نوموړی واکسین تاسې په کوویډ-19 نه اخته کوي. خپل ځان خوندي کړئ. خپله ټولنه خوندي کړئ. واکسین وکړئ. |

| | PSA 5 |
|---|---|
| **English** | The COVID-19 vaccine is halal. The COVID-19 vaccine does not contain any animal products. The COVID-19 vaccine does not change your DNA. The vaccine has been proven safe for thousands of people, including those of different races, ethnicities and ages. Protect yourself. Protect your community. Get vaccinated. |
| **Translation** | د کوویډ-19 واکسین حلال دی. د کوویډ-19 په واکسین کې له کوم حیواني محصول څخه ګټه نده اخیستل شوې. د کوویډ-19 واکسین ستاسې په DNA کې بدلون نه رامنځته کوي. د مختلفو نژادونو، قبیلو او مختلفو عمرونو لرونکو کسانو په شمول، نوموړی واکسین د زرګونو خلکو لپاره بې ضرره ثابت شوی دی. خپل ځان خوندي کړئ. خپله ټولنه خوندي کړئ. واکسین وکړئ. |

| | PSA 5 |
|---|---|
| **English** | Stay safe after being vaccinated from COVID-19. Right now, experts don't know how long the vaccine will protect you. Even after getting the vaccine, continue to wear a mask, practice social distancing, wash your hands often, and disinfect high-touch areas frequently. |
| **Translation** | له واکسین کولو څخه وروسته له کوویډ-19 څخه په امن کې واوسئ. اوسمهال کارپوهان په دې نه پوهېږي چې نوموړی واکسین د څومره وخت لپاره تاسې خوندي کوي. حتی له واکسین کولو څخه وروسته هم، ماسک واچوئ، اجتماعي فاصله مراعت کړئ، په تکراري ډول خپل لاسونه ومینځئ او هغه ساحې چې په زیات ډول لمس کېږي، ضد عفوني کړئ. |